SuffolkCollective
Suffolk partners and agencies working together

suffolk Resilience

MESSAGE CASCADERS

# د کوویډ سره ژوند کول

*ځنګه کولی شو د یو بل خوندي او ښه ساتلو ته دوام ورکړو*

**حکومت د کوویډ سره د ژوند کولو په اړه خپل پلانونه صادر کړل**
پداسې حال کې چې ټول قانوني محدودیتونه لرې شوي، کوویډ نه دی تللی او داسې شیان شته دي چې موږ ټول کولی تر سره یې کړو تر څو یو بل د ناروغۍ څخه وساتو.

**زه باید څه وکړم که چېرې زما د ټست نتیجه مثبته وي یا د کوویډ - 19 نښې ولرم؟**
که کولی شئ نو په کور کې پاتې شئ او د نورو خلکو سره د اړیکې څخه ډډه وکړئ. په داسې حال کې چې تاسو په قانوني توګه ځان ګوښه کولو ته اړتیا نلرئ که چېرې ستاسو د کوویډ - 19 ټست نتیجه مثبته وي، خو د نورو سره د اړیکو کمول به د ډیرو خلکو د ناروغ کیدلو مخه ونیسي.

**ایا زه اړتیا لرم چې ټسټ وکړم؟**
په منظمه توګه ټست کول به تاسو ته دا واضح کړي چې ایا تاسو ساري یاست که نه او ایا د دې مکان شته چې تاسو ویروس هغه خلکو ته انتقال کړئ چې تاسو ورسره ګورئ. تاسو اړتیا نلرئ چې هره ورځ ټست وکړئ یا په قانوني ډول د یو داسې کس سره د اړیکې څخه وروسته ځان ګوښه کړئ چې د کوویډ - 19 ټست نتیجه یې مثبته راوتلې. خو، دا به یو ښه وي چې مخکې له دې چې د ملګرو، د کورنۍ له غړو سره لیدنه وکړئ یا کار ته لاړ شئ، ټست ترسره کړئ.

**زه څنګه ټست ترلاسه کولی شم؟**
وړیا چټک ټست په gov.uk  وېب پاڼه کې د 2022 کال د مارچ تر 31 مې نېټې پورې تر لاسه کېدی شي.
د 2022 کال د اپریل له 1 نیټې څخه، تاسو به وکولی شئ د خپل ځايي درملتون څخه ټست واخلئ.

**واکسین وکړئ**
واکسین د کوویډ څخه د ناروغ کیدو پروړاندې زموږ تر ټول غښتلی دفاع ده. که تاسو یو، دوه، درې واکسینونه کړي وي یا مو هیڅ نه وي کړي، د وخت نیولو لپاره هیڅکله هم ناوخته نه ده. تاسو کې د ځان لپاره وخت یا اپوینټمنټ ونیسئ. www.sneevaccine.org.uk کولی شئ په

**داسې شیان شته دي چې موږ یې د ساري ناروغۍ خپریدو د کمولو لپاره ترسره کولی شو:**
لاسونه - خپل لاسونه په منظم ډول او د 20 ثانیو لپاره ومینځئ
مخ – په ګڼه ګوڼه کې دننه د خپلې پوزې او خولې د پټ ساتلو لپاره ماسک واغوندئ
فاصله – د امکان په صورت کې د هغو خلکو څخه فاصله وساتئ چې تاسو ورسره ژوند نه کوئ
تازه هوا - د کور دننه د ناستې پرمهال کوټې ته تازه هوا پرېږدئ

د کوویډ- 19 په اړه د وروستي لارښود لپاره: www.gov.uk/coronavirus څخه لیدنه وکړئ

07/03/2022

Pashto